# جماعت اسلامي او پښتونخوا

محمد عارف جان

د جماعت اسلامي محمد ابراهيم په پېښور کښې شوي يو کانفرنس ته کړې تقرير دانشوران عموماً او پښتانۀ خصوصاً راپارولي دي. ښاغلي وئيلي دي چې پښتونخوا څۀ خاص مسئله نۀ ده پکار ده چې حکومت د دهشت ګردۍ، بې روزګارۍ او د امن و امان حالت ښۀ کولو ته پام وکړي. هغۀ دا هم وئيلي دي چې د دې سيمې پښتنو په ۱۹٤۷ کښې پښتونخوا مسترد کړې ده. په دې کانفرنس کښې پاکستان مسلم ليګ (ن) او (ق) هم شامل وو او د هزارې ضلعې ناظمانو هم پکښې شرکت لرلو.

وړومبۍ خو دا ډېره د خوشحالۍ خبره ده چې د جماعت اسلامي يو سينئير ليډر دهشت ګردۍ او انتها پسندۍ ته هم مسئله وئيلې ده. په ماضي کښې خو جماعت اسلامي تش په نوم جهاد کښې مشغوله وه او په پاکستان کښې د دهشت ګردۍ د مخ نيوي کولو خو څۀ چې د دې د غندلو توفيق ئې هم نۀ دے لرلې. په داسې حال کښې چې دهشت ګردو په پاکستان کښې د ننه د وزيرستان نه واخله تر سوات پورې خپل اسلامي مملکت جوړ کړے دے او د صوبې ټوله حکومتي مشينري ئې شله کړې ده او زمونږ فوځي قوتونه لګيا دي د حکومتي رټ بحالولو هڅې کوي.

محمد ابراهيم يوه ډېره خاص مسئله چېړلې ده. د صوبې د نوم بحالول د عوامي نېشنل پارټۍ په منشور کښې شامله خبره ده او دا وخت مخلوط حکومت په دې مسئله پوه شوے دے او د دې ادراک ئې کړے دے. داسې مسئلې ته نۀ مسئله وئيل د جمهوري اقدارو او د عامې رائې د کومې چې جماعت اسلامي دعوېداره ده، نفي ده. جماعت اسلامي اوس اوس په بوني کښې شوو انتخاباتو کښې برخه اخستې ده او جمهوري روايات دا غوښتنه کوي چې د عوامو رائې ومنلے شي. پکار ده چې حزب اختلاف د حکومت نه مطالبه وکړي چې تاسو په خپل انتخابي منشور کښې کومې وعدې کړې وې هغه پوره کړئ. ولې جماعت اسلامي د دې برخلاف کوي.



محمد ابراهيم وئيلي دي چې د سيمې خلقو پښتونخوا په ۱۹٤۷ کښې مسترد کړې ده. دلته زۀ دا يادونه ضروري ګڼم چې د دې صوبې خلقو چرې هم پښتونخوا مسترد کړې نۀ ده. صوبائي اسمبلۍ په

دې حواله يو قرار داد پاس کړے دے کوم چې د جماعت اسلامي غړي پير محمد خان مرحوم وړاندې کړے وۀ او په مرکزي حکومت د هغې احترام واجب شوے دے. په ځائے د دې چې دا خبره نوره وچېړلې شي پکار ده چې اوس د وفاقي حکومت جواب ته انتظار وشي.

په دې کانفرنس کښې د هزارې ناظمانو ويره ښکاره کړه چې د صوبې د نوم بدلېدو سره به دا صوبه کمزورې شي او کېدے شي چې خلق په صوبه دننه د نورو صوبو غوښتنې وکړي. دا خبره خپل وزن لري خو زيات وزن په دې خبره کښې دے کۀ چرې د پښتنو د جذباتو قدر ونۀ شو نو دا به د پاکستان د وجود د پاره سودمند نۀ وي. ځکه چې پښتانۀ په دې وطن کښې دوېم لوئے قوت دے او زياتره په دې صوبه پښتونخوا کښې اوسي، د دې نه علاوه په نورو صوبو لکه بلوچستان او سندھ او پنجاب کښې هم پښتانۀ په معقول شمېر کښې ميشته دي. دا د دوي اسلامي، جمهوري او آئيني حق دے چې د خپل شناخت غوښتنه وکړي. د هزارې ناظمان ويرېږي چې په داسې کېدو سره به د هزارې ، چترال او کوهستان خلق هم راوچت شي. څۀ عجيبه خبره ده چې د اقليت غم خو ژړلے شي ولې د اکثريت په اواز غوږونه کڼولے شي. نو داسې خو د پښتنو د جمهوري حق نه انکار د پاکستان د اسلامي وحدت نه انکار کول دي. زمونږ د ځنې سياسي خلقو مسئله دا ده چې کله د حکومت نه بهر وي نو په بې ځايه حربو او بليک ملينګ کښې



مشغول وي. دوي په تشو نعرو سترے کېږي نۀ او يوې لحظې له دا سوچ نۀ کوي چې د دوي دا انداز به څۀ نتيجې پيدا کوي. دوي په څهرو بدلولو کښې سيال نۀ لري او جماعت اسلامي خو دا اوس اوس بيا ثابته کړه. دوي د اليکشن نه بائيکاټ کړے وۀ خو چې څۀ سياسي فائدې ئې محسوس کړې نو په ضمني انتخاباتو کښې ئې راودانګل. کله چې دوي وليدل چې د عوامي نېشنل پارټۍ د پښتونخوا مسئلې ته خلق هرکلے وائي نو دوي ته دهشت ګردي، انتها پسندي او د امن و امان بدحالي رايادہ شوه. خو د دوي نه تپوس کېدے شي چې تاسو تر اوسه د فاټا او سوات د پاره کوم اواز پورته کړے دے؟ د دوي نه دا پوښتنه هم کېدے شي چې تاسو ولې هغه وخت جنډې وچتې کړې وې کله چې وکيلان د خپلو دفترونو نه راوتلي وو او کله چې د دغې تحريک سرخيل اعتزاز حسن د پښتونخوا پښتونخوا نغمې وئيلې. دوي هره ورځ د غزه (فلسطين) باره کښې خو بيانونه جاري کوي خو څومره ئې د خپل وطن غم ژړلے دے؟

په دې مخصوص وخت کښې د دې غوښتنې سره د دوي اصل غرض دا دے چې عسکريت پسندي سره همدردي لرونکي يو ځل بيا د خلقو توجه د اهمو مسئلو نه واړوي. د دې يو تازه مثال دا دے چې دې جماعت اوس اوس په سوات کښې د جينکو د سکولونو د ورانولو باره کښې خبرې شروع کړې وې خو هم په هغه وخت ئې دا کوشش هم کولو چې د دې د پاره څۀ وجوهات راپېدا

کړي. دوي لږ وخت مخکښې د عسکريت پسندو د نفرت آميزه کارونو غندنه هم کوله خو هم په هغه وخت به ئې نور عناصر د دې ذمه وار گرځول. ولې دا مذهبي پارټۍ يو کانفرنس نۀ کوي چې پکښې د خودکش حملو، سکولونه ورانولو، خلقو وژلو او ويرې ترهې خورولو خلاف فتوې ورکړي.